پوهنیار فهیم بهیر

## د تخلیق او تحقیق تر منځ ګډې او بېلې کرښې

**لنډیز:**
تحقیق او تخلیق د ادبیاتو دوې مهمې برخې دي چې تخلیق خپله خالص ادب یا هنر ګڼل کېږي. په تخلیقي اثارو کې لیکوال هڅه کوي چې لیکنه یې ډېره هنري وي که هر څومره د یوې لیکنې تخیل زیات وي په هماغه اندازه لیکنه ښکلې وي. د تخلیقي ادبیاتو ژبه هنري وي هلته کلمې د اصلي معناوو تر څنګ نورې ضمني معناوې هم لري. په تحقیق کې د ژبې کلمې په اصلي معنا کارول کېږي که چېرې پر تحقیق باندې تخلیق خپل سیوري وغورځوي دا بیا د لیکوال لپاره یو عیب ګڼل کېږي.
تحقیق او تخلیق په خپل منځ کې سره کلکې اړیکې لري چې له یو بل څخه پرته هېڅ په لاس نه راځي. تخلیق د تحقیق لپاره مواد برابروي او له دغو موادو څخه ګټه اخیستنه د تحقیق کار دی که چېرې تحقیق نه وي، نو بیا تخلیق هیڅ معنا نه لري. د څېړنې د لارې ورځ تر بلې نوي معلومات تر لاسه کېږي او پر همدې اساس د علومو او د انساني ژوند په بیلابیلو برخو کې د پرمختګ ستر شاهد یاستو. په لنډه توګه که ووایو تخلیقي اثار خالص ادبیات دی چې په بېلابېلو فورمونو کې را څرګندیږي، مګر د تحقیق د رامنځته کېدو لارې چارې د تخلیق سره جوت توپیر لري.

**Abstract**: Research and creation of two important parts of literature and Creating is pure art or literature. The writer of the creation literature to the utmost endeavors is committed to art. The imagination in it makes the theme beautiful. The language of literary creation is so artistic. In addition to the main meaning, it has implicit meaning; its words are used for the main meaning. If the research is done under the influence of creation. This is a blow to the writer. These two parts are very close together; its existence needs one another. Creation creates material for research literature and Research uses the material. If we don't have creation literature, we do not have a research literature either, In other words, the research literature will have no meaning.

Our data grows increasingly through research, Based on that witnesses are great advances in different sections in human life. We can say that creation writings are artistic writings which are included in various literary forms but the ways of creating both sides are different.

**سریزه:**

د ادبپوهانو له خوا ادبیات پر دوو برخو ویشل شوي چې یو یې تخلیقي ادبیات او دویم یې تحقیقي دي. په تخلیقي ادبیاتو کې ټولې هغه لیکنې راځي چې هنري ارزښت ولري یا په بله معنا د تخیل په مرسته رامنځته شوي وي. ادبي ژانرونه؛ لکه: شعر، لنډه کیسه، ناول، رومان، طنز، ادبي ټوټه یا نور هنري ژانرونه د تخلیقي ادبیاتو په کتار کې راځي. د دې ژانرونو لیکنې د تخیل په مرسته رامنځته کېږي که چېرې په دې فورمونو کې د لکینې پر مهال له قوي تخیل څخه کار اخیستل شوی وي لیکنه هومره هنري ګڼل کېږي، خو که چېرې د تخیل اړخ یې تت وي د لیکنې ادبي اړخ هم کمزوری ګڼل کېږي.
تحقیقي یا څېړنیز ادبیات هغه دي چې هغه د تخلیقي ادبیاتو په اړه د شننې او تشریح د لارې رامنځته کېږي.
د ادبیاتو د دې دواړو ډولونو« تحقیقي او تخلیقي» ژبې هم سره توپیر لري. د تخلیقي ادبیاتو د ژبې کلمې هم اصلي او هم ضمني معناوې کاروي د دواړو هدفونه هم سره جلا دي، په تخلیقي ادبیاتو کې ډېرې خوا وې نورې هم خوندې وي چې د څېړنې د لارې را سپړل کېږي، مګر د تحقیق په ژبه کې کلمې خپلې اصلي معنا وو لپاره کارول کېږي نورې

ضمني معناوې نه لري. که چېرې په کوم تحقیقي اثر کې هنري کلمې او جملې کارول شوې وي بیا نو لوستونکي په سختۍ له متن څخه پیغام اخلي.
تحقیق او تخلیق دواړه سره ګډ اړخونه هم لري که چېرې تخلیق نه وي، نو د تحقیق لپاره به خام مواد کم وي چې څېړنه پرې وشي همدا تخلیق دی، چې د تحقیق لپاره شرایط برابروي. که چېرې تحقیق نه وي نو بیا موږ نه شو کولای چې د یو ادبي یا هنري اثر پر اهمیت ارزښت پوه شو.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:** په دې څېړنه کې د دواړو خواو(تحقیق او تخلیق) تر منځ ګډې او بیلې خوا وې را سپړل کېږي او د هریوه ارزښت په ډاګه کېږي او هغه خوا وې هم سپړل کېږي چې د دواړو برخو د پرمختګ او پېژندې له پاره مهمې دي.
**د څېړنې موخه:** د ادبیاتو د دوو سترو برخو( تخلیق او تحقیق) تر منځ د اړیکو شننه او ګډې نقطې چې د ادبیاتو پوهنځي د محصلانو د پوهېدنې او د ادب څېړونکو له پاره ستر ارزښت لري.
**د څېړنې فرضیه:** تخلیق او تحقیق داسې ګډ پیوندونه لري، چې د همدې اړیکو په اساس د یوبل ارزښت ټاکل کېږي او پرته له دې اړیکو یو بل نیمګړي دي.
**د څېړنې اصلي پوښتنه:** د تحقیق او تخلیق تر منځ کومې اړیکې موجودې دي؟
فرعي پوښتنې: الف ـ ایا دواړه د جوړښت او شکل له مخې توپیرلري؟
ب: ایا د دواړو ژبه سره توپیر لري؟
ج: که د دوی اړیکې یو د بل لپاره مهمې دي؟

**د څېړنې شالید:**
د تحقیق او تخلیق په اړه په یو شمېر ادبي تاریخونو کې لکه د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک، د پښتو ادب تاریخ لرغوني دوره، د پښتو ادب معاصره دوره او همداسې په یو شمېر نورو ادبي اثارو کې د تحقیق او تخلیق په اړه یو څه رڼا اچول شوې ده. په دې ورستیو کې د تحیق په اړه جلا اثار هم لیکل شوي دي چې په هغو کې یواځې د تحقیق پر پېژندلو او لارو چارو باندې بحث شوی دی.
د تخلیقي اثارو په اړه هم په یو شمېر ادبي تاریخونو او یو شمېر نورو اثارو کې ورته اشاره شوې ده په دې برخه کې په ادبپوهنه یا د ادپوهنې په ځانګو کې ورته اشاره شوې ده او تخلیقي ادبیاتو هر فورم په اړه اوس جلا کتابونه لیکل شوي دي، خو د دواړو «تحقیق او تخلیق» تر منځ په ګډو او بیلو خواوو باندې یا د دوی د توپیر په اړه څه مشخصې کرښې نه دې ایستل شوي چې لوستونکی وکولای شي په اسانی سره د دوی تر منځ ګډ او بیل اړخونه درک کړي.
**د څېړنې مېتود:**
هره لیکنه د خپلې موضوع په تړاو ځانګړی میتود لري، خو د دې مقالې په لیکلو کې زیاتره له تحلیلی، کتابتوني او تشریحي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی، د مقالې ځینې برخې تحلیل شوي دي او مثالونه يې وړاندې شوي دي، له ځینو اثارو څخه په متن کې اخیستنې هم شوي دي او ځینې برخې د ضرورت له مخې لا سپړل شوې او تشریح شوي دي.

**د تخلیق او تحقیق تر منځ ګډې او بېلې کرښې:**

تخلیق او تحقیق د ادبیاتو دوې عمده برخې دي چې ادبیات له همدې برخو څخه رامنځته شوی دی. د ادبیاتو ګڼ شمېر تیوري اثار چې په پوهنځیو کې تدریس کېږي د تخلیق او تحقیق د ګډو او بیلو اړخونو په اړه یا د دواړو د توپیر په اړ ځانګړې کرښې نه دې ایستل شوي، چې محصلان او نور لوستونکي په اسانه سره د دوی تر منځ توپیر جوت کړي.
فقط په همدې بسنه شوې ده چې تخلیق ادبیات لکه شعر، لنډه کیسه، ناول، رومان، طنز...او تحقیقي ادبیات هغه دي، چې د تخلیقي ادبیاتو په اړه په کې بحثونه شوي وي. د ادبپوهانو له خوا د منځپانګې له مخې ادبیات پر دوو سترو برخو ویشل شوي دي:
۱ـ تخلیقي یا هنري ادبیات ۲- تحقیقي یا څېړنیز ادبیات چې تخلیقي یا هنري ادبیاتو ته اصلي ادبیات وایي « ۵:۶».
درې کاله وړاندې مې د پښتو ژبې د یو نومیالي لیکوال او له خپل استاد سره په یو دفتر کې به ادبي مسایلو خبرې کولې. هغه وویل: تخلیق له تحقیق څخه مهم دی، ځکه چې تخلیق د تحقیق لپاره مواد برابروي. د مثال په توګه پیرمحمد کاروان د هنر خاوند دی، هغه شعرونه لیکي، خو یو بل کس چې شعر لیکلای نه شي او هغه بیا د کاروان په شعرونو

بحث کوي، يعني د هغه د شعر بېلابېلو خواوو باندې څېړنه کوي دی څېړونکی دی، نو دلته د ده پر پرتله د کاروان برخه درنه ده چې هغه ادبیات ایجاد کړي دي.

خو د ماسترۍ په اخري سمستر کې د پښتو ژبې تکړه څېړونکي سرمحقق زلمي هېوادمل د خپل تدریس په یوه برخه کې د تخلیق او تحقیق په اړه څو یادونو ته اشاره وکړه او د هغه په اند تحقیق له تخلیق څخه مهم دی، ځکه چې تخلیق عروج او نزول لري، مګر تحقیق په ډګر کې چې څومره وخت تېرېږي، د څېړونکي تجربه پخېږي او په خپل مسلک کې نور هم پیاوړی کېږي.

د تخلیق او تحقیق د اهمیت او ارزښت په اړه دواړو استادانو خپل دلایل درلودل د دوی د اندونو په رڼا کې د همدې موضوع په تړاو په لاندې توګه څو مهمو برخو ته هم اشاره کوو:

**تخلیق**: ټولې هغه لیکنې چې هنري ارزښت ولري تخلیقي ادبیات ګڼل کېږي. لکه شعر، لنډه کیسه، ناول، رومان، ادبي ټوټه او نور..

تخلیقي ادبیات د تخیل په ملتیا رامنځ ته کېږي او په دې لیکنو کې چې څومره تخیلي اړخ قوي وي هومره لیکنه هنري قوت پیدا کوي. استاد روهي د هنري ادب په اړه وایي :«ادبیات یو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه په ښکلي او جذباتي رنګ کې وړاندې کوي او د انسان ایستیتیکي غوښتنو ته ځواب وایي » « ۴: ۱۱ ».

د ادبیاتو د اوسنیو پېژندنې له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي او نالیکلي منظوم او منثور هنري اثار ادبیات ګڼل کېږي«۵: ۱ ».

د دې دواړو په اړه مو د لیکنې په پیل کې یو څه معلومات وړاندې کړل، خو تخلیق د تحقیق په پرتله ستونزمن دی په دې معنا چې تحقیق د یو ډول اصولو او معیارونو له مخې هر سړی تر یوحده تر سره کولای شي، خو تخلیق چې د تخیل په ملتیا رامنځته کېږي هر څوک دا وړتیا نه لري حتی هغه کسان چې تخلیقي لیکنې کوي هر مهال دوی هم نه شي کولای یا یو شعر ولیکي یا کومه بله هنري لیکنه. د دوی په وینا د الهام په مرسته دوی کولای شي یو شعر یا یوه هنري لیکنه ولیکي.

دا هم د تخلیق« شعر» یوه نمونه:

دا شبنم پر مخ د ګل دی قطرات
که عرق دی پر رخسار باندې نقات
دا یې تار د زلفو کوږ و خوله ته پریوت
که افق حلقه وهلی پر حیات
په اول بازي د میني په شطرنج کې
تا په رخ کړ زما د زړه بادشاه رامات «۳ : ۷۹».

**تحقیق**: د تحقیق کلمه عربي ده. په پښتو کې څېړنه، په انګلیسي Research ورته وایي، چې لغوي معنا یې پلټنه او د حقیقت معلومونه ده «۷: ۲۸۲».

هندي څېړونکی ډاکټر ګیان چند وایي: « څېړنه د یو پټ یا مبهم حقیقت د ښکاره کولو اصولي عمل دی. څېړنه د نامعلومو یا لږ معلومو شیانو په هکله پوهېدنه ده» «۹: ۱۹ ».

د تحقیق د لغوي او اصطلاحي پېژندنې په اړه ادبپوهانو بیلابیل نظرونه وړاندې کړي دي، خو د تحقیق په ذریعه موږ کولای شو د یوې ځانګړې موضوع د لټون د لارې حقایق را څرګند کړو.د تحیق په ذریعه موږ د یوې موضوع اصلي ماهیت ته رسېږو او د تحقیق لمن پراخه ده. همدا اوس د ژوند د بېلابېلو برخو په اړه څېړنې روانې دي. د علومو ډېرې برخې سره ګډې دي او د همدې څېړنې په ذریعه سره بېلېږي. زموږ په ټولنه کې ډېر څېړونکي شته دي؛ خو د ادبیاتو په برخه کې ډېرې راټولونې د څېړنې په نوم چاپېږي او په اوسنیو څېړونکو کې استاد سرمحقق زلمی هېواد مل مخکښ څېړونکی دی. د څېړنې پر معیارونو برابرې او ښې لیکنې کوي او نوموړي په دې برخه کې تیوري اثار هم لیکلي دي.

**تخلیق هنر او تحقیق علم دی**: مخکې مو اشاره وکړه چې تخلیقي ادبیات هغه دی چې هنري ارزښت ولري یا هغه لیکنه چې په لوستونکو یا اوریدونکو کې عواطف او احساس را وپاروي تخلیقي یا ادبي لیکنه ګڼل کېږي.

لنډه کیسه، شعر، ادبي ټوټه، ناول یا نورې ادبي لیکنې په ښکلې هنري ژبه د تخیل په ملتیا رامنځ ته کېږي. د تخیل په ملتیا انځورونه جوړېږي او کیسه په لوستونکي خپل اغېز ښیندي او د هغه عواطف را پاروي چې همدا ځانګړنه د هنر یوه برخه ده. په همدې اړه استاد روهي لیکلي: « نوښتګر شاعر یا کیسه لیکونکی له واقعیت څخه خپله انطباع او برداشت اخلي په عاطفي بڼه انځوروي د همدې مفکورې پر اساس ویل کېږي چې بیا جوړونه «باز افریني» د ادب او په عام ډول د هنر یوه ځانګړنه ده » « ۲:۹ ».

استاد روهي يو بل ځای ليکي: «تحقيقي ادبياتو ته ادبپوهنه يا ادبي څېړنه ويل کېږي يا په پله ژبه تخليقي ادبيات ژبني هنري اثار دي او تحقيقي ادبيات د دغسي اثارو په باره کي بحث او څېړنه لري. تخليقي ادبيات په خپله ادبيات او د هنر ځانګه ګڼل کېږي » « ۲: ۱۳».

نو په لنډه توګه ويلای شو چي تخليق په خپله هنر دی چي ښکلا او خوند لري پر لوستونکو يا اوريدونکو باندې اغېز ښندي دا هنر که په هره بڼه وي.

تحقيق علم دی او علم پر تجربو ولاړ دی. د څېړني يا تحقيق لپاره يو لړ اصول او ټاکلي معيارونه شته دي چي د يوې څېړني مرحله بايد هغه طی کړي او وروسته بيا پايله رامنځته کېږي. تحقيق د تخليقي ادبياتو د ماهيت او څرنګوالي په اړه بحث کوي، کله چي د يو اثر ماهيت يا څرنګوالی معلوموي، نو بايد د تحقيق ټول مرا حل طی کړي او د يوې ښې څېړني لپاره معيارونه بشپړ کړي. کله چي خبره د معيارونو او ټاکلو اصولو خبره شوه، نو دلته له علم سره پيونديږي او ويلای شو چي تحقيق علمي جنبه لري.

همدا ډول د ادبپوهانو له خوا ادبپوهنه په دري ځانګو «ادب تاريخ، ادبي کره کتنه او ادبي تيوري»وېشل شوي ده، چي د هرې برخي د کار ساحه يو ډول ټاکلي معيارونه هم لري او د تخليقي ادبياتو په څېړ د خپل اغېز يا د خپل تخيلي څواک په ملتيا د هغې کار پر مخ نه وړل کېږي.

په دې اړه مي د(Rusk) وينا خوښه ده. هغه وايي: «تحقيق د ذهن د کار کولو طريقه ده، هغه پوښتني کول چي تر اوسه شوې نه وي او پر يو ټاکلي کړنلاره د هغوی د جوابونو د تر لاسه کولو هڅه ده. په تحقيق کي پر نظريو سربېره کوښښ کول په کي اساسي کار دی د حق د څرګندولو او د هغه نه دفاع کول دي». «۱۰: ۱۳ ».

**تخليق عروج او نزول لري:** د پښتو ادب په معاصر تاريخ کي استاد روهي معاصره دوره پر درې پړاوونو ويشلي ده. د يو شمېر ليکوالو اثار په يو پړاوو کي چاپ شوي دي، خو دوی بيا په بل پړاو کي معرفي شوي دي. استاد روهي په وينا دوی په لومړي پړاو کي ځکه نه دي معرفي شوي چي د دوی اثارو په دويم پړاو کي تبارز کړی دی، نو له دي څخه جوتېږي چي تخليقي ادبيات عروج لري، د تخليقي پنځونو لړۍ اوج نقطې ته رسيږي او د وخت پر تېريدلو سره بېرته د نزول خوا ته مخ اړوي.

په دې اړه مي يوه تجربه هم کړې ده، يو نوميالي ليکوال او زما استاد چي تر دي دمه لنډې کيسي هم ليکي، د نومونړي د لنډو کيسو يوه پخوانی ټولګه مي ولوسته چي هرې کيسي خوند، راښکون او ښه تلوسه درلوده، مګر اوسمهال چي په نيت کي کله د هغه نوي کيسي لولم د پخوانيو په پرتله هغسي خوند او راښکون نه لري، خو د تحقيق په برخه کي چي څومره کار کېږي هومره د ليکوال تجربه پخېږي د ليکني په ټولو معيارونو پوهېږي او دلايل يې ورخ تر بلې قوي کېږي او نوي اثار يې د پخوانيو په پرتله د هر اړخ له مخې پياوړي کېږي.

**احساس او عواطف:** دا توکي په ادبياتو کي مهم دي، که شعر وي يا هنري نثر په هغې کي بايد دا برخه درنه وي. ښه شعر او ښه کيسه يا نور ادبي ژانرونه په لوستونکي او اوريدونکي کي احساس او عواطف را پاروي، يعني تخليقي ادبيات بايد دا ځانګړنه ولري او پرته له دې يې ادبي اړخ کمزوری ښکاري. دا هم د شعر يوه بېلګه:

روژې!
ته راغلي که په کور کي مې
څه نشته خير دی
د زړه په وينو به دې نيسم
ماتوم به دې په تړمو اوښکو
تا به نهيلي
د خالق په لور ستنه نه کړمه
خو زه له تا دغه پوښتنه کوم
دا چي زه ټول عمر روژه يم ډوډۍ نه لرم
د خدای په در کي مې روژې د بې وزلې
وايه قبليږي کنه؟ «۱: ۲۴۰»

هنري نثرونه احساس او عواطف په لوستونکي يا اوريدونکي کي پاروي او په کومه ليکنه کي چي دا برخه درنه وي، نو ليکنه هومره هنري ښکاري خو که چېرې په تحقيقي ليکنو کي هنري کلمي يا جملي يا نور داسې اړخونه وي چي د هنري نثر سيوری ولري دا يو ډول عيب ګڼل کېږي، يعني په تحقيق کي دې برخي ته بايد ځای ور نه کړل شي.

دا هم د نثر نمونه چي احساسات او عواطف لېږدوي: « د جمال خان مورې! هغه د تيلو بوتل راوړه. په دې وخت کي پر ببوزلې مرغۍ را ګرځي او په وهلو شروع کېږي، پس له دې په غولي کي دغه درې اوازنه اوريدل کېده نور د هېڅ يو غږ نه و يو د ګل محمد د لړګي د شړکهار، بل د هغه دا چغې چي اور غواړې!

حرا موني اور غواړي، بل د مرغی په زور ه چغي چي ويل به يي با باجي مړه شوم... زه مړه شوم، د خدای د پاره، رسول ته ګوره... خپله پلاره... خپلي موري... په کاکا صاحب... رارسيږئ... په لويه ځوانه مد د... زه خو بي ګنا ه يم... زه خو بي خطا يم... يه خدايه... يه ربه» « ۸: ۱۰۱».

هدفونه:په يو شمېر تخليقي ليکنو او اثارو کي يو ځانګړی هدف نه، بلکي ځو پيغامونه تري لوستونکی اخيستی شی. حتی د شعر په يو بيت کي ځو پيغامونه وړاندې کولای شي د همدې خبرې په تړاو استاد غضنفر د ډاکټر اکبر پر يو بيت باندې« ستوري لاندې نه راځي - بر پسي خيبر يوسه» ځو مخه مقاله ليکلي ده، يعني پورتنی بيت لوستونکي ته ځو پيغامونه وړاندې کوي، خو په تحقيق کي پر يوه مشخصه موضوع باندې کار کېږي او يو ټاکلی پيغام يا هدف لوستونکي ته وړاندې کوي.

په تحقيق کي ځېړونکی د موضوع حجم ته ګوري يا يي په مقاله کي يا د کتاب په شکل يا د نورو بنو له لارې پرې کار کوي او د هغي موضوع ګونګي خواوې را سپړي او يو مشخص هدف لاس ته راوړي.

**د تخليق او تحقيق ژبه:** د تخليقي ادبياتو ژبه هنري وي او يوه کلمه کولای شي هم حقيقي او هم ضمني معناوې ورکړي. د تخليق ژبه د تخيل په خوږو شيرينه وي په ځينو ژانرونو کي لکه ادبي ټوټه چي په لوستلو يي ځوک نه مړيږي. دا ژبه تصويرونه هم لري اغېز او تلوسه هم لري. هره کلمه او جمله يي د تخيل رنګ لري، که يو ځوک وغواړي يو کس له خپل پيغام څخه اغېز من کړي، نو ښه وسيله يي تخليقي يا هنري ژبه ده چي د لوستونکي او اوريدونکي په احساساتو اغېز کوي.

په تحقيقي ژبه کي ليکوال له تخيل څخه کار نه اخلي په دې ژبه کي هره کلمه خپله اصلي معنا ورکوي د ژبې پيغام يي بايد واضح وي د تخيل او هنري کلمو سيوری بايد ور باندې پروت نه وي. جملې يي بايد لنډې او د خپلو کلمو په انداز ه پيغام وړاندې کړي. په دې ژبه کي له نامانوسو او ټولو هغه کلمو څخه ډډه وشي چي لوستونکي يي سم پر معنا نه پوهيږي.

**تخليقي د وني ريښې او تحقيق يي ميوه ده:** د وني ريښې ډېرې مهمي دي کله چي د کومي وني ريښي وچې يا پرې شي نو ونه ور سره هم وچيږي، نه نورې پاڼې نيسي او نه ميوه.که تحقيق يي ميوه وبولو نو تخليق دی چي د هغي په اساس دا ميوه په لاس راځي. همدا اوسمهال چي د نړۍ ځيني زوراکي هېوادونه د نورو هېوادونو د نيولو خوب ويني لومړی د هغو خلکو ټول کلتوري او بېلابېل مسايل ځېړي چي ډېر کلتوري او نور مسايل هم د تخليق د لارې رامنځته شوي دي. زورواکي هېوادونه دا هر څه ځېړي او وروسته د همدې ځېړنو له لارې خپل هدف ته په اسانه توګه ځان رسوي.

د هېواد پياوړی ليکوال او تاريخ پوه استاد حبيب الله رفيع د هنداري په نوم يو اثر ليکلی چي په هغي کي دا اوسنی ټولي اختراګاني ښودل شوي چي سرچيني يي تخليق او فولکلور دی.

**تحقيق هغه باران دی چي خړه بيديا سمسوروي:** ځو کاله وړاندې د هېواد نوميالي ليکوال استاد حبيب الله رفيع خپل يو اثر را کړ. زما په اند د هنداري په نوم و چي په هغي کي نوموړي د شفاهي ادبياتو په اړه ليکني کړې وې او دا په کي روښانه شوې وه چي د اوسنی ټکنالوژۍ پرمختګ او اساس د خلکو په شفاهي ادبياتو کي دی او د اوسنيو پرمختګونو سرچيني د همغه شفاهي ادبياتو په تل کي پرتي وې، نو که يو ځوک هر ځومره ښه شعر ووايي يا يوه ښه هنري اثر وليکي او د هغي ګټې خواوې او ار زښتونه ځرګند نه شي، نو همداسي به پاتي وي.

د تحقيق د لارې د يو مهم اثر مهمي برخي سپړل کېږي او په ټولو هغه برخو رڼا اچول کېږي چي د انساني ټولني سره اړيکي لري او يوه ټولنه بيا له همدې لارې خپل د ژوند اړونده چارې پر مخ بيايي، نو که د تحقيق باران نه وي، د تخليق په بيديا کي که هر ځومره ښايسته او ګټور ګلان او بوټي کرل شوي وي، خو هېڅ کله به شنه نه شي خو دا هر څه د تحقيق له لارې لوستونکو ته تر لاسه کېدای شي.

**ځېړنه او د ژوند اړتياوې:** د ژوند د هرې اړتيا او د هغي د پوره کېدو په هدف انسانان هڅه کوي چي د حل لارې ولټوي. دوی د ځېړني د لارې خپلي تجربې پخوي او بالاخره خپل هدف ته ځان ورسوي. هر کال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کي د ژوند د بېلابېل اړخونو په اړه ځېړني رواني دي او تر لاسه شوې پايلې د انساني ژوند په تړاو نوې اسانتياوې رامنځته کوي، لکه: د ساينس او طبيعي علومو په برخه کي.

په ادبياتو کي موږ هم د ځېړني له لارې هغه لارې چارې پيدا کولای شو چي څنګه مو خپله ژبه او ادب غني کړو؟ د يوې ښې ليکني ځانګړتياوې د يو ښه شعراو د يو شمېر ادبي ژانرونو بريالي تخنيکونه او د اوسني ژوند په تړاو يي اغېز او اهميت خپلې ټولني ته ځرګند کړو.

**پرمختللي هېوادونه او ځېړنه:** په پرمختللو هېوادونو کي د تحقيق هڅي کړندی دي، هلته که هره ښوونيزه چاره تر سره کېږي خپلي تجربې د ځېړني له لارې پخوي. هلته وګړي هڅه کوي چي د خپل ژوند ګنو ستونزو ته څنګه د حل لار ولټوي. دې هدفونو ته د رسېدو لپاره دوی ځېړني تر سره کوي.که هغه د ساينس او تکنالوژۍ په اړه دي که د نورو

ټولنیزو علومو په اړه. همدا علت دی چې یو شمېر بهرنیو هېوادونو د علم او پوهې په برخه کې نوي تیوریک اثار رامنځته کوي او ټولنه یې ورځ تر بلې د پرمختګ په لور وانې وهي.

په پرمختللو هېوادونو کې داسې خیالي فیلمونه او سریالونه هم جوړیږي چې وروسته تر خپرېدو یې وګړي یا اړوند کارپوهان هڅه کوي چې همغسې څه رامنځته کړي کوم چې په فیلمونه کې د تخیل په مرسته تر سره شوي دي، یعنې هغه څه چې دوی په خیالي فیلمونو کې لیدلي وي.

**وروسته پاتې هېوادونه او تخلیق:** په وروسته پاتې هېوادونو کې وزګارتیا وي، ډېر خلک له عصري ژوند څخه بې برخې وي، په کلیو او بانډو کې خلک اوسمهال هم د پیریانو او بلاګانو کیسې کوي او وخت په همدې تېروي. په پرمختللو هېوادونو کې خلک وخت سره زر ګڼي هغوی د سبا یا راتلونکي لپاره کار کوي. په وروسته پاتې هېوادونو کې وګړي د ژوند ډیره برخه د تخلیقي اثارو په لوستلو او اوریدلو سره تېروي، مګر په پرمختللو هېوادونو کې دا برخه یو څه کمزورې ده، هلته د ژوند هرې چارې تنظیم شوې وي او د خپل پلان مطابق کار، مطالعه او ساعت تېرۍ هم کوي.

**د تخلیقي او تحقیقي اثارو په اړه د عامو وګړو اندونه:** زموږ په ټولنه کې ډېر کسان نالوستي دي؛ مګر هغه کسان چې زده کړه هم لري دوی د تخلیقي اثارو پر نسبت تحقیقي اثار خوښوي. د ښوونځي د دولسم ټولګي زده کوونکی وم چې ما د سیوری ناول او نور ادبي او هنري اثار لوستل په لسګونو ادبي اثار را سره موجود وو، مګر زما یو ملګری چې د لسانس زده کړې یې کړې وې یا نور دوستان هغوی به دا اثار نه لوستل کله چې به یې د ناول یا لنډو کیسو کوم کتاب له ما سره ولید، نو زه به یې له لوستلو څخه منع کولم. دوی به همیشه دا ویل چې د دې پر ځای نور معلوماتي کتابونه ولوله دا اثار ګټور نه دي.

ډېر وګړي شته چې دوی هنري اثار نه خوښوي کله چې دوی ناول، لنډې کیسې یا نور ادبي اثار له چا سره ویني هڅه کوي چې څوک یې ونه لولي، ځکه دوی یې خیال پلو بولي کله کله اخلاقي تورونه هم پرې لګوي.

**د تخلیقي او تحقیقي اثارو اقتصادي اړخ:** اوسمهال چې زموږ په ټولنه کې د ښوونیز نظام لپاره هڅې ګړندۍ شوي دي بیلابیل ښوونیز مرکزونه علمي موسسې او پوهنتونونه جوړ شوي دي او ورځ تر بلې د زده کړیالانو شمېر هم د زیاتېدو په حال کې دی، نو زموږ په هېواد کې د هنري اثارو په پرتله څېړنیز او معلوماتي اثار په لوړه بیه پلورل کېږي او اوسمهال یې بازار هم ګرم دی. هغه خپرندویه ټولنې چې څېړنیز تیوریک اثار خپروي له چاپه وړاندې څو برابره پیسې د کتاب لیکوال ته ورکوي او بیا له چاپ وروسته یې خپرندویه ټولنه په خپله خوښه پلوري، خو په لویدیځو هېوادونو کې تخلیقي اثار هم لوړه بیه لري هلته د لنډې کیسې او ناول ډېر اثار پلورل کېږي. د دې تر څنګ په بهرنیو هېوادونو کې د کمپیوټر یا ټکنالوژۍ نوې معلوماتي سي ډیانې هم په لوړه بیه پلورل کېږي؛ ځکه په هغو کې د کمپیوټر د یوې ستري برخې په اړه معلومات خوندي دي چې د څېړنې د لارې رامنځته شوي دي.

څو ورځې وړاندې مې په تاند ویبپاڼه کې یو خبر ولوست چې د شکسپیر یو اثر ۷ میلونه ډالره وپلورل شو، خو زموږ په هېواد کې اوسمهال هم تخلیقي اثار هغسې په لوړه بیه نه پلورل کېږي لکه څنګه چې تیوري یا څېړنیز اثار خپل بازار لري.

مناقشه:

یو شمېر ادبپوهان تخلیق تر تحقیق غوره ګڼي. د دوی په اند تخلیق خالص هنر دی او ایجادول یې د هر چا کار نه دی په دې اساس تخلیق تر تحقیق مهم دی او پنځونکي یې هم د څېړونکي په پرتله غوره دی. یو شمېر نور ادبپوهان اوسنیو څېړنو ته په کتو سره د تحقیق پلوي کوي. د دوی په اند تحقیق هغه لاره چاره ده چې موږ ته د تخلیقي اثارو اهمیت څرګندوی او که چېرې تحقیق نه وای نو د ادبي اثارو ارزښت به څنګه ټاکل کیده؟

تحقیق او تخلیق په خپل منځ کې کلکې اړیکې لري، چې همدا اړیکې د یو بل له پاره مواد برابروي او د یو بل ارزښت ټاکي. تحقیق د وخت په تېریدو سره پخېږي او لیکوال په خپل مسلک کې نور هم پخوی مګر تخلیق د وخت په تېرېدو سره د نزول خوا ته مخه کوي. په ټولنه کې د اروایي اغېز له مخې تخلیق تر تحقیق ښه اغېزه کولای شي، خو تحقیق د خلکو په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې څرګند مثالونه هم لري.

پایله:

په لومړي سرکي ادبیات په دوو سترو برخو«تخلیق او تحقیق» ویشل شوي دي چې تخلیقي ادبیات هنري ادب ګڼل کېږي، مګر تحقیقي ادب هغه څه دي چې د تخلیقي ادب د شننې او تشریح له لارې رامنځ ته شوي وي.

ادبي ژانرونه لکه، شعر، لنډه کیسه، ناول، طنز، ډرامه، رومان، ادبي ټوټه او نور هنري ژانرونه تخیلي ادب ګڼل کېږي، چې لیکوال یې د لیکنې پر مهال د تخیلي ځواک په مرسته رامنځته کوي، د تخلیقي اثارو ژبې د تحقیقي اثارو سره جوت توپیر لري. په تخلیقي ادب کې هر فورم جلا ځانګړنې او ژبه لري، د اثارو ژبه هنري وي، کلمې د اصلي معناوو

تر څنګ نورې ضمني معناوې لري. تخليقي ادب هر څوک هم رامنځته کولای نه شي او په دې ليکنو کې څومره د تخيل قوه پياوړې وي ليکنه هومره هنري او ادبي ګڼل کېږي.

تحقيقي ادب بيا هنري ځانګړنې نه لري، د تحقيقي اثارو ليکوال د تخليقي ادب په اړه ليکنې کوي، د هغوی په ارزښتونو، په تخنيکونو، د هنري ادب بېلابېلې خوا وې را سپړي او خپلې ټولنې ته يې وړاندې کوي. د تحقيق ژبه له تخليق سره هم توپير لري، په تحقيق کې کلمې په اصلي معنا کارول کېږي، نثر يې ساده يا معلوماتي ګڼل کېږي. په ليکنه کې هنري کلمې او جملې نه کاروي او هڅه کوي چې نيغ په نيغه پرته له پېچلتيا څخه لوستونکي ته معلومات وړاندې کړي. که په لنډه توګه ووايو دواړ ه له يو بل سره کلکې اړيکې لري په دې معنا که تخليق نه وای تحقيق به هم په ادب کې نه وای او که تحقيق نه وای، نو بيا به څنګه د تخليقي ادب ارزښت او اهميت لوستونکو ته څرګند شوی وای.

اخځونه:


١ - بدر، صديق الله.(١٣٨٩ هـ ش). د لونګو دريځې. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٢ - روهي، محمد صديق.(١٣٨٤هـ ش). د پښتو ادبياتو تاريخ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٣ - لېوال، عبدالغفور.(١٣٩٠هـ ش). شعري سېمبولونه. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٤ - وزيری، محمد اقبال، د ادبياتو تيوري، د پښتونخوا د پوهنې ديره، پېښور، ١٣٩١ لمريز کال.
٥ - هېوادمل، زلمی.(١٣٧٩ هـ ش).د پښتو ادبياتو تاريخ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٦- هاشمي، سيد محي الدين. (١٣٩٤هـ ش). ادبپوهنه.جلال اباد: ميهن خپرندويه ټولنه.
٧ - هاشمي، سيد محی الدين.(١٣٩٥ هـ ش). د ليکوالي هنر.جلال اباد: ميهن خپرندويه ټولنه.
٨ - هاشمي، سيد محي الدين.(١٣٨٩هـ ش). د نثري ادب ډولونه.جلال اباد: وحدت خپرندويه ټولنه.
٩- هاشمي، سيد اصغر.(١٣٩٥هـ ش). د څېړنې بنسټونه.جلال اباد: هاشمي خپرندويه ټولنه.
١٠ - هاشمي، سيد اصغر.(١٣٩٥هـ ش). د تحقيق اصول. جلال اباد: هاشمي خپرندويه ټولنه.